پوهاند دوکتورم.ا. زيار ۲۰۱۲/۰۳/۰۸

# پښتو ټپيزه دجاپاني هايکو تر څنګ

## يو منلی نوی شعري ځيل دی

وګړي د ژوند و ژواک په هر ډګر کی هر نوي ځيز او ښکارنده، ادلون بدلون او پرمخيون كه هرځومره ټولګټی هم وي، دری ډوله غبرګونونه را ټوکوي: تود، سوړ او نابانډی(مخالف). په بله وينا، يوه ډله يی تود هرکلی کوي، بله يی سوړ او دريمه يی ګړسره دښمنانه. که ټولوټی يا منفي وي، بيا لومړی ډله د نابانډی دريځ راخپلوي او دريمه د همغږی او منځنی ډله خو هرګوره پر خپل ځانساتی او بی توپيره دريځ ټينګ پاتيږي.
خبره پر بيخبنايي ټولنوټيز(اجتماعي- اقتصادي) اوښتون او پرمخيون نه، بلکی پر مخبنايي ادبي- فرهنګي او په نوميرلی توګه، پر شعري نوښتون ده.
پښتو ليکنی( پيیلی او ناپيیلی) ادب د نورو دوديالو ژبو د هغه په څير د خپل(و) ګړني ادب زيرنده بلل کيږي. په زاړه پير کی، لکه د(و) ګړني(شفاهي- ولسي) هغه غوندی له جوليز او مانيز پلوه تر ډيره نږه پاتی شوی، په منځني پير کی زياتره د عربي- پارسي هغه تر اغيز لاندی راغلی، خو.په نوي پيرکی يی له ګردو نومهالو اغيزمنيو سره سره د يوی خپلواکی ودی لاره پسی اخيستی ده. په زړه پوری بيا داچې که عربي، پارسي، تورکي، هندي، اردو... نوي او ازاد شعري کالبونه او فورمونه له اروپايي ژبو راپور کړي، پښتو دی بياهم له خپلو(و) ګړنيو هغو څخه راخپل کړي دي.
دادی، په دی لړ کی مو په ناپښيليزو( ناقافيوالو) ډولونو، په نورو ټکو، نيم ازاد(مونډي)، بشپړ ازاد، سپين او ناپيیلي شعر پسی **له ۱۹۹۷ ز. راهيسی** يو نوی پښيليز ځيل((ټپيزه)) د يو ټولمنلي(و) ګړني ازاد شعر(ټپی يا لنډی) په پښځيزونه(تخميس) رادود کړی ده. دی ځيل په پښځلسکلن مهاليرکی، کټ مټ، لکه پخپله لنډۍ دومره منښت و ګرانښت پيداکړ چی هغه خلور ګونو، په تيره مخنيو درو ځيلونو په څه ناڅه يوه پيړۍ کی تر لاسه کړی نه دی. هم يی د رغاونی مينه وال ورځ پر ورځ مخ پر زياتيدو دي او هم يی د لوستنی او اوريدنی هغه، په تيره له هغی راهيسی چی ټنګ ټکورته يی لار موندلی ده.

ما د جولی او منځپانګی(شکل و محتوا) د پرمختللي دايليکتيک پر بنسټ تر هرڅه له مخه د د پښتو شعر د جوليز بدلون او رنګارنګی په موخه د نويو پښيليزو او ناپښيليزو ډولونو د را منځته کولو او دودولو په لړکی ټپيزه رامنځته کړه، هغه هم د څو انګيزو او لاملو له مخی:

۱- د پينور شيړ کلنه(**۱۳۷۱-۱۳۷۷ل**) کړوالي او د پوهنتون له پښتو ټولنی(اکيډيمی) او پښتو څانګی سره د رسمي او نارسمي همکاريو او بيا له ليکوالو او شاعرانو سره د ناستو پاستو په ترڅ کی می دا ګونګوسی او انګروزی تر غوږه شوی چی د اکيډيمی اړوندان د((پښتو ټپی)) تر نامه لاندی د آرو ولسي لنډيو ترڅنګ له رغاونو هم کار اخلي؛ ماهغه څکه باور کړی چی ورته کار د کابل پښتو ټولنی څه ناڅه نيمه پيړی پخوا کړی وو، لا هلته د هری لنډۍ پر سر يوځو ييکی هم ورکول کيدی او نر هغه وو چی د آرو لنډيو تر څنګ يی له ځانه هم رغولای شوی. نادوده يی بيا داچې لره خوا په رسنيو او بنډارونو کی دا خبره هم کيده چی پلانی بيستانی ((د ټپوشاعري)) کوي!.

د اغلی مملکت ساقي(د خدايي خدمتګار شاعر ارواښاد فضل رحيم ساقي لور) يوی ټپی چی د ايالتي واکمن ګوند(ن.ا.پ) **له خوا پر(۲۶ می ۲۰۱۰)** شمال- لويديزه صوبه ((خيبر پښتو نخوا)) ونومول شوه، سم له سمونی دآری او رښتينی ولسي او بيا تاريخي لنډۍ دريځ، را خپل کړ، او هغه داوه:
خيره بخت دی مبارک شه،
چی پښتونخوا به دی په غيږ کی ونيسينه!
مانا داچې په ټوله کی دغه ازاد لنډ او کيښکلی ټولمنلی وګړنی شعر يومخيز په نالوستو پوری تړلی پاتی شوی نه دی او لړ و ډير يی په رغاونه کی لوستيو او ان ليکوالو او شاعرانو هم برخه بنده درلودلی، خو تردی کچی هم نه چی بشپړه شاعري يکی وشي.!

۲- په داسی اکر(حالت) کی چی زموږ لنډۍ پنجابي او هندي شاعران ځانته راځکولي ول، د نيم وګړني جاپاني شعر((هايکو)) پيښو پرلپسی زوراخيست، هغه هم زياتره د ناظمانو له خوا په خورا پيکه او مصنوعي بڼه، چی نه يی


افغان جرمن آنلاين تاسو په درنـښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

له پښتو ځپېز- خجیز(سیلابو تونیک) کچ و میچ سره اړخ لګاوه او نه یې له پښویېز( ګرامري) دود و دوی(قاعدی او قانون) سره.
په دی توګه له دغه په زړه پوری پښتنی بلونج(بدیل) سره د ویناوالو زړونه او ذهنونه دیته چمتو شول چې د هوبهو او رندو پیښو پرځای د هایکو د سمی سهي راخپلونی(اداپټیشن) بهیر رامنځته کاندی، هغه هم د یو لړ دری مسریزو سروکیو غوندی له یو برابرو یا کم و زیاتو دریېزو په بڼه، او په دی ډول دوه نوي شعري ځیلونه هممهال پښتو راخپل کړل(په دی تړاو: پښتو بدلمیچ ۳۴۸-۴۹ مخ).

۳- د نورو پرمختیایي ټولنو غوندی پښتني- افغاني دا له ټولو کورنیو او بهرنیو ننګونو سره سره د ودی او پرمختګ لار پسی اخیستی او له ټولنوټیزی بیخبنا سره یی فرهنګي مخبناهم هممهاله په ادلون بدلون او اوښتون کی ده. له دی سره، لکه څنګه چی د پرمختللو ټولنو از میښتونو راښوولی ده، زموږ (و) ګړنی یا فولکلوري ادب هم ورو ورو خپل منښت او ګرانښت بایلي او وسمهالي لیکني ادب یی ځایناستی کیږي.

په دی لړ کی لنډئ چی که څه هم، تر نورو ناڅرګندو ، نیمڅرګندو او بشپړ څرګندو ولسي ځیلونو( بدلو، ببولالو، نارو، لوبو، بګتیو، سروکیو، چاربیتو...) یی پښی یوڅه زیاتی ټینګی پاتی دي او تراوسه یی لړو ډیر د زیږونی او کارونی بهیر پر وړاندی درومي، خو بیاهم، هماغسی چی په ټنګ ټکورکی ورو ورو خپل ځای غزل او نوي شعرته خوشی کوي، دغسی یی په ژبني بهیر کی شعرونه ځای نیسي. د ساري په ډول د دی پرځای چی څوک د خپلی وینا د څرګند تیا، جوتتیا یا پیاوړتیا لپاره له متل او ټپی کاراخلي، د پوهانو د وراشو( وجیزو) تر څنګ د یوه شاعر شعر پر ژبه یا قلم راوړي. هرګوره، زیاتره هماغه نالوستی پرګنی دي چی هم یی پنځونه پرمخ وړي، هم کارونه.

په دی ډول ، له ټپیزو سره یوخوا خورا کمپیښی ټپی راخوندي کیږي اوبلخوا د ادب و فو لکلور د یوه ګډلي شعري ځیل په توګه د پنځګرو یوه نوی ډله راټو کیږي.او ورسره د اړوندو مینه والو هغه؛ داسی چی په مشاعرو، شعري- ادبي او سندریزو بنډارونو کی پرلوستو سربیره د نالوستو مینه والو ګډون ته هم ښه ترا لار هواروي.

۴- دا نیوکه چی پینځیزونګ(تخمیس) په لنډئ کی یوراز لاسوهنه یا یی سپکاوی دی، بیځایه ده. لکه څنګه چی په دودیز ادب کی تخمیس لکه بل هر ورته ډول، بدیعي صنعت بلل شوی، هغه هم له ډیری مینی او درناوي په موخه د پخو استادانو پرغزلو، نو د ټپی تخمیس هم د منښت وګرانښت او درناوي ښکارندوی بللای شو. په ناباندی(مخالفه) ډله کی هم زیاتره د زړو دودیزو ځیلونو لارویان، په تیره غزلبول داسی انګیري چی ګوندی مینه وال به ورسره وویشي ، ځکه وار له مخه یی له ناپښیلیزو( مونډیو، ازادو، سپینو) ځیلونو سره هم ورته رخه در لودلی ده.

۵- که څوک وغواړي، ونه غواړي، ټپیزه له جاپاني هایکو سره هممهاله رادود شوی او ورځ پر ورځ مخ پر بره روانه ده. داڅه سیاسي ربړه نه ده چی ټولپوښتنی ته وړاندی شي، هغه هم پردئ هایکو نه، بلکی خپله ټپیزه، لکه څنګه چی ننګرهاري لیکوالو دا کار وکړ. هرګوره داګټه یی وکړه چی تر بي بي سي یی راورسوله او په دی ډول یی د دودیدنی بهیر نورهم پسی
چټک شو.

۶- د بي بي سي پښتو خپرونی دخپل اوونیز((پیلوځي)) له لاری د روان (۱۳۹۰ل) کال په سروپای کی دوه ځله د ټپیزی خبره رامخته کړه او په زړه پوری یی داچی د ناباندی شاعر یو دلیل داوو چی لومړئ دری سرباري کړی مسری دلوستونکي یا اوریدونکي او لنډئ ترمنځ واټن رامنځته کوي او په تلوسه کی یی اچوي. حال داچی د ټپیزی تر ټولو غوره موخه همدا تنده او تلوسه ده، او کټ مټ لکه د کیسی غوندی لنډئ هم خورا زیاته زړه راکښونی کوي!

۷- د سیالئ یا دچاخبره شعرجنګئ لپاره یوه په زړه پوری لاره هواروي. د بیلګی په توګه یو تن لومړئ دری مسری وړاندی کوي او بل ته وایي، ته یی آره لنډئ ووایه!
په پای کی د دی جوګه کیږي چی رسنیزو، په تیره تیلویزوني سیالیو(ذهني مسابقو) ته هم لار ومومي.

۸- داهم له کیدونه لری نه ده چی دغه نوی ځیل د لنډئ په برکت د ځینو اغلو او ښاغلو شعري وړتیارا بر سیره کاندی او وار له واره یی له همدی ټپیزی راپیل کاندی. لکه څنګه یی چی په((وریت پښتون)) فیسبوک کی یو څرک تر سترګو شوی دی. د لیکوال له اټکله نادیه پکتین دغلته لومړئ پلا له خورا ښکلو ټپو سره را څرګنده شوه- نه چی خدای مکړه، ترشا یی غلا درغلي ټیکاو ولري!


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکني د لیکنیزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

دویونه(قواعد)
له دی منلی آر(اصل) له مخی چی ډیر کله تیوري له پرکتیکه رازیږي، یا ورسره لږ تر لږه ورسره بشپړتیا او پیاوړتیا مومي او آرونه او دویونه(اصول او قواعد) راخپلوي، نو موږ سم له لاسه له کړنیز بهیره د ټپیزی په اړه یو شمیر آرونه او دویونه راو ایستلای شول. ګوندی په راتلو نکی کی نور هم پسی کره والی و مومي. په دی لړ کی ښایي له مهال تیریدنی سره په لومړیو ور سرباري کیدونکو مسرو یا ټوټو کی کمی زیاتی راشي او همداراز ځنی د پښیلو(قافیو) اتکړی ماتی شي- لکه څنګه چی د لویدیځوالو او بیا ایرانیانو په پلیونی په پښتو کی هم د ((نوي ازاد غزل)) لپاره نن سبا هڅی روانی دي- نو د ټپیزی دغه آرونه او دویونه به هم ورسره ادلون بدلون مومي.

هرګوره په ازاد شعر کی یی((تضمین)) له ډیره راهیسی دود لرلی دی، لکه:
ورځی اوونی،
میاشتی، کلونه
تیرشول،
خو،
زه دی ځارم
لاهغسی د راتللو لاره...
که یوځل بیا پردی لار راشی،
پر پخوانو پلونو دی پریوتل ګردونه!
(اند و واند)

۱) پیژند: ټپیزه د ټپی یا لنډی په پینځیزونګ(تخمیس) رغاونه مومي، په بله وینا، یوه پنځیز(مخمس) نوی شعري ځیل دی چی د ټپی د ړومبنی مسری له تول و تال او د پای ویي (کلمی) پر بنسټ له درو سرباري قافیوالو مسرو سره رغول کیږي او په دی ډول دریواړه نه نه (۹- ۹) څپی لري، لکه:
مرګیه مه راځه، وار وکړه
لږ پیوستون می له یار وکړه
وروستی پیرزو د دیدار وکړه...
پر جنازه می تلوار وکړه،
ناوخته کیږي، نا اشنا وطن ته ځمه!

۲) داچی ولی مو دغه نوی شعري ځیل(( ټپیزه)) و نوماوه، غټ لاسوند یی وییرغاونیز(واژه سازي) اسانوالی وو. په دی مانا چی تر نورو هممانیزونو(لنډی، ټیکی، غرنګی، غریبی، مسری، مسری..) نه، له( ټپی) سره (-یز) روستاړ ي ښه ترا اړخ لګاوه. (مسریزه) بلونج(بدیل) یی، نه یوازی د ناپښتو والي ، بلکی د څو مانیز والي له پلوه ټکر رامنځته کاوه. مسره یا مسری پر (لنډی) سربیره د (سروکي ) او همداراز د نیم بیتي(مصراع) په مانا دود لري او تری هره رغاونه هم ټکر پیښوي. که دجاج و مانا له پلوه لنډی(( دوه سری مار)) را پر زړه کوي او مسری(( توره))، نو(ټپه) هم ټپ(زخم) رابلنوي یا تداعي کوي. ربښتیاهم دغه وګړنی شعري ځیل تر بل هر ځیله زیات تراژیک دی او د پښنو د ټولنیزو بخولو، ناخوالو، نهیلیو او بی برخیو تر ګردو خورا رنځه او ځلندویه هینداره ده. د ځوانانو او په تیره د ښځمنو ونډه پکی تر نورو ځکه ډیره ده چی پر پاړکیز زبیښاک سربیره یی د(( میره)) او ((ملا)) تر زور زیاتي لاندی هم تل ټیکاو لرلی دی.
یو نیم لیکوال یی بیا د نومونی لاسونددا انګیر لی چی انګازه کوونکی ورسره د سندرغاړو غوندی پر یوه غوږ لاس ږدي او ټپوي یی. همدا خبره ده چی نن سبا د ثبتونی (ریکارډینګ) لپاره له غوږنی(head phone) کاراخیستل کیږي.
.
۳) پر نړیوال کچ هیچ بی سرلیکه شعر نشته، نو په کارده، هره ټپیزه یو نوم و سرلیک ولري اود غزلبولو بی سروبوله پیښی و نه شي. لکه څنګه چی په(بدلمیچ) کی ورته نغوته شوی، بی سرلیکه شعر هغه کانه ده، لکه د چاچی لور زوی وشي او نوم پری کښنی نه ږدي. دا پلمه یی تر ګناه بتره ده چی وایي، د غزل بیتونه سره همرنګي یا تړاو(تسلسل) نه لري. دغه چار و اند د پخوانیو دربا ري شاعریو یوه پاتوری ده او هغه داچی هر بیت به جلا جلا ارزول کیده او د هریوه پر سر به یوه طلا د شاعر په خوله کی اچول کیده!

۴) د آرو لنډیو په غوراوي کی دا څو ټکي اړین بلل کیږي:
(۱) کمپیښی(ندرت)، داسی چی ډیری سولیدلی او کاریدلی نه وي؛


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په ځیر و لولئ

له ژب ښکلاییز او ژب- اندیز پلوه په تول تللی وي، په بله وینا، ژبه یی زیاته نره، خوږه، کره کینکلی او اهنگینه وي، او له هنري او منځپانگیز پلوه هم د زیات منښت او گرانښت جوگه وي؛

(۲) له ژبني او ان چاپي پلوه د هغو لنډیو نیمگړتیاوی راغبرگی نه شي چی په لوی لاس یا تیروتنه په ټولگو کی راخوندي شوی دي، لکه دا لاندی بیلگی:

د بی ارزۍ کچکول
نورهم سپیره، میرات میرات شی
نه دی د ژرندی، نه جومات شی
هسی بی غم له خیر خیرات شی...
د بی ارزۍ کچکوله مات شی،
چی در پر در دی گرځوم، تش دی راوړمه!

د کابل پښتوټولنی په ټولگه کی د(بی ارزۍ) پر ځای(بی عرضۍ) ویی راغلی دی!

(۳) له اوسنی کره لیکدود او لیکلاری سره یی سمول اړین بریښي، لکه واخلی(د- له)، (په- پر)،(کښی- کی)، (دپاره- لپاره)، (اولس- ولس)، (اوربل- وربل)، (هندوستان- هندستان) او داسی نور.

(۴) د ملي او تاریخي ویاړونو، ځایونو، کارنامو، ښادنامو او اتلانو یاد پکی شوی وي، لکه په دی لاندی ټپیزو کی:

پیر روښان
زور به اوبه د هر سرزور شي
ورته ښیری به مو سور اور شي
تری به ازاد مو کلی کور شي
د مغول ظلم به نسکور شي،
چی پیر روښان توره پرلاس جنگ ته ورځینه!

خوشال خان
له اندیښنو نه می زړه تنگ دی
هیواد په سرو وینو بیا رنگ دی
لښکر راغلی د اورنگ دی...
نن پر خیبر د ځلمو جنگ دی،
خوشاله پاځه چی مغول راغلي دینه!

میر ویس نیکه
ځښتن دی مات هغه لښکر کړي
له ژوند و ژواکه لاس پر سر کړي
چی پښتانه ته بد نظر کړي...
میرویسه خدای دی جنت درکړي،
چی موږ دی خلاص کړو د پردو له منتونه!

احمد شاه بابا
دښنه دی ټول په اور ستی کړه
توټي توټی هر ترویټي کړه
لری له ځان ملامتي کړه...
احمده خدای دی جنتي کړه،
تر هندستانه پوری تا کړي جنگونه!

د دی بلی تاریخي ټپیزی تپه د(( ملالی)) د هغی تر ښنگه بیا کمپیښی هم ده:

د میوند اسطوره

د پیرنگي دی خدای کور نوړ که
په تورو خاورو د گور موړ که


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکني د لیکنیزی ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

دا واک و ځواک دی ورنچوړ که...
لالی می دا ځل خدایه جوړ که،
که چیری بیا پر میوند جنگ شو، مړ دی شینه!
(د مردان د وچ خوړ د هاتیانو د کلي ((بابرختک)) له خولی).

وزیر اکبر خان
غلیم یی ډاري له پرتمه
کړه یی ور پری د ښکیلاک تمه
غازیان راټول پری له هرچمه...
د توریالي اکبر له برمه،
ځوانان د ننگ توری وهي، سر ورکوینه!

ایوبخان
سره کفنونه مړو ته نماړي
غوخ یی سرونه لکه ځاړي
((ویکتوریا)) ته مرگی غواړي...
د هندستان پیرنگی ژاړي،
که ژیړ ایوب پر دنیاوو، کونډی به شونه!
همداراز نور سیمه ییز او سراسري ازادیپال اوجنگیالي، لکه کرم خان، میر زمان خان، چمني خان، ملتان، عجب خان... پاچاخان هم دراخله.
(۵) له ډیرو سپکو ورکو طنزیه بیلگو دی ډډه وشي، نه چی خدای مکړه، دغه نوی شعري ځیل د ټوکو او ملنډو یو لوبځی(بازیچه) وگرځي؛
(۶) تر وسی وسی د هغو لنډیو له غوراوي ډډه وشي چی د ړومبی مسری وروستی ویی د سرباري دری مسری له قافیه یي تنگسی سره مخامخوي او رغوونکی د پوروېزونو(پردیو لغاتو) یا بیخونده اوړدو ردیفونو کارونی ته اړ باسي؛ دغه وروسته ټپیزه د تنگی پښیلی پایله بلل کیږي چی لوستل یی پوره پام غواړي:
پر لاره وروځه، لړه ساخله
نور می د مات زړه ازارماخله
له مرگه پس می خبر آخله...
راکړی گل دی بیرته واخله،
زه د مرگي پر یانه ځم، خزان به شینه!

(۷) د یوی ټپی له دوو یا ډیرو بڼو څخه هماغه راواخیستل شي چی یادی شوی ځانگړنی او ښیگنی یی زیاتی وي، لکه په دی لاندی ټپیزه کی:

په تول تللی
دغه ټپه ده څومره ښکلی
له هر پلو په تول تللی
هسی پیپلی او کوټلی...
گل د گلاب، بوی د سنځلی،
سوری د ولی، خوب د نجلی خوند کوینه!

د آری لنډۍ دری نوری بڼی دادي:
گل د گلاب، بوی د سنځلی،
سوری د ولی، څنگ د نجل مزه کوینه:
گل د گلاب، بوی د سنځلی،
سوری د ولی، خوله د نجلی خوندکوینه
گل د گلاب، بوی د سنځلی،
سوری د ولی، خوب د نجل مزه کوینه...


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکني د لیکنیزی بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

(۸) په دی لاندی ټپیزه کی د یوی ټپی له دوو بنو څخه له هماغی کار اخیستل شوی چی هم کمپیښی وه او هم د رغوونکي له خورمنځ(سلیقی) سره برابره:

لاس پر سر
شوم لاس پر سر له پردي خپله
څوک به یی نه کړي پر ما بله
څو داستا مینه نه کړم خپله...
پاس پر کمره ولاړه ګله،
یا به دی پری کړم، یابه ځان وغورځومه!
(...نصیب د چا یی اوبه زه درخیژومه)
یاد د ډیری دودی لنډۍ ((د مازیګر زیړیه لمره- ته لا ولاړ یی، پر ما پریوتل ګردونه)) وارینت.

په دغه بله کی د یوی ټپی له دوه درو وارینټو ځنی سوچه هغه امرل شوی دی:
ته به د چاپرکور میلمه یی
ورسره ناست په څه پلمه یی
تیاره ماښام ته یی بلینډه یی
ته به د کوم محفل ډیوه یی،
زه په تیارو د بیلتانه کی ناسته یمه!
(...زه د هجران په تاریکو کی ناسته یمه)

(۹) له منطقي او ژبني پلوه د یوی لنډۍ دویم ځیل ځکه سم نه بریښي چی د ټولیزی ګړنی (سروهل ) برخلاف پکی د(سر) پرځای (کړنګ) راغلی دی:
سپوږمیه سر وهه راخیژه
یارمی د ګلو لوکوي، ګوتی ریبینه
سپوږمیه((کړنګ)) وهه راځیژه
یارمی د ګلو لو کوي، ګوتی ریبینه

ما پخپله دغه ځیل ږومبی ځل د ناروېژي فرید ریک بارت د سوات د کتاب پر دوتنه(پښتی) لیدلی وو چی نژدی نیمه پیړی وړاندی یی کښلی او خپور کړی دی. ما یی تراوسه له سوات پرته بل چیری څرک نه دی ایستلی، او په زړه پوری بیا داچی له دغه آریانپوه سره په دوو مخامختیاوو کی همداسواتي وارینټ را پرزړه شوی دی: یوځل پر **۲۰۰۳کال،** د ګډ استاد (مورګنستیرن) د تلین له کبله په ناروی، او ورم کال بیا د سوات د ناورین په تړاو په لندن کی!

اکسفورد


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکني د لیکنيزی بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ